NHS

# HPV

## vaccination

د HPV پروړاندې محافظت رامنځ ته کول ترڅو
تاسو سره مرسته وشي چې په سرطان د اخته کېدو
ګواښ مو راټیټ شي



arm against cancer

## جهاني HPV
## د واکسينو د تطبيق پروګرام

د HPV واکسين د ۲۰۰۸ کال په سپټمبر کې د ۸م تعليمي کال ټولو نجونو ته وړاندې کېږي. همدارنګه دغه واسکين د ۲۰۰۸ کال له سپټمبر څخه د ۸م تعليمي کال هلکانو ته هم وړاندې کېږي.

دا ځکه چې دا روښانه ده چې د HPV واکسين د نجونو او هلکانو سره مرسته کوي چې د HPV د سرطاني ناروغيو پروړاندې خوندي و اوسي.

**په ټوله نړۍ کې تر ۸۰ مليونه ډېر د HPV واکسينونه تطبيق شوي دي، چې له دې ډلې ۱۲۰ مليونه يې د امريکا په متحده ايالاتو او تر ۱۰ مليونه ډېر په بريتانيا کې خلکو ته ورکول شوي دي.**

### د HPV واکسين مرسته کوي چې د په انساني پپيلوماوايروس (HPV) ناروغۍ باندې له اخته کېدو څخه خوندي وساتل شئ.

دغه وايروس کولی شي د ژوند په وروستيو برخو کې په ځينو لاندې ناروغيو باندې د اخته کېدو ګواښ لوړ کړي:

- د رحم سرطان
- د خولې او ستونې ځينې سرطاني ناروغۍ
- د مقعد او تناسلي آلې سرطانونه

د HPV واکسين نه شي کولی د جنسي اړيکو پرمهال د انتقالېدونکو نورو ناروغيو پروړاندې مصؤنيت رامنځ ته کړي.



# HPV
او دا چې دغه وايروس څنګه خپرېږي

70%

**د HPV ناروغي ډېره عامه ده.** په دغه ناروغۍ باندې تر ۷۰٪ ډېر هغه کسان اخته کېږي چې واکسين يې نه وي کړي

**HPV د انسان په جلد او د تناسلي آلې په شاوخوا کې ژوند کوي،** نو له همدې امله ده چې له کانډم څخه استفاده نه شي کولی په بشپړ ډول له HPV څخه محافظت رامنځ ته کړي

د HPV وايروس **ګڼ شمېر ډولونه** لري

د HPV ډېری ناروغۍ اعراض او علائم نه لري او **په خپله التيام کېږي**

**ځينې يې په بشپړ ډول نه پاکېږي** او کېدی شي د سرطان لامل شي پداسې حال کې چې ځينې نورې يې بيا د تناسلي په شاوخوا کې د غدو يا دانو لامل ګرزي

## HPV واکسین تراوسه څه تفاوتونه رامنځ ته کړي دي؟

په بریتانیا کې د واکسینو د تطبیق پروګرام پیل‌څلس کاله کېږي چې له امله یې په HPV ناروغۍ او د هغو اشخاصو په تعداد کې د پام وړ کموالی راغلی چې په تناسلي آلو کې یې غدې یا دانې رامنځ ته کېږي.

ټمه کېږي چې بلاخره به دغه واکسین په بریتاینا کې هر کال د سلګونو کسانو ژوند وژغوري.

د دې لپاه چې غوره خوندیتوب ترلاسه کړئ، واکسین باید مخکې له دې چې له جنسي پلوه فعال شئ درکړل شي.

که تاسو له جنسي پلوه فعال یاست، باید واکسین وکړئ.

## د HPV واکسین ترسره کول

دغه واکسین د مټ په پاسنۍ برخه کې د تزریق په توګه ورکول کېږي.

ځینې خلک د دې لپاره چې خوندي پاتې شي یوازې یو ډوز ته اړتیا لري. دغه واکسین معمولاً هغه وخت ورکول کېږي کله چې تاسو د ښوونځي 8م کال وي.



## د HPV واکسین

**د واکسینو په مهالوېش کې2} کارېدونکی HPV واکسین Gardasil 9 دی او د HPV د 9 ډولونو پر وړاندې چې په ډېری خلکو کې یوازې په یو ډوز سره د سرطان او تناسلي ناروغۍ لامل کېږي، خوندیتوب رامنځ ته کوي**

## ما خپل واکسین له لاسه ورکړي دي، آیا لا هم کولای شم واکسین وکړم؟

هو. که تاسو په ښوونځي کې خپل واکسین له لاسه ورکړي وي، تاسو باید کوښښ وکړئ او څومره ژر چې امکان ولري واکسین وکړئ.

د ملاقات د تنظیم لپاره د خپل ښوونځي له نرسې، د ښوونځي د واکسینو له ټیم یا خپل عمومي ډاکټر ( GP ) سره اړیکه ټینګه کړئ.

تاسو تر خپلې 25مې کلیزې پورې د واکسینو د ترلاسه کولو لپاره په شرایطو برابر ګڼل کېږئ.

## هغه ښځې چې واکسین یې کړي دي لاهم باید د رحم د معاینې لپاره مراجعه وکړي

په انګلستان کې د 25 کلونو او لوړ عمر ټولو ښځو ته د رحم د معاینې وړاندیز کېږي. د HPV واکسین به تر 90% پورې د رحم د سرطان د پېښو مخنیوی وکړي، اما ښځې لا هم باید کله چې بلنه ورکړل شي د رحم د معاینې لپاره مراجعه وکړي.





## د سرطان نور ډولونه څنګه؟

د HPV اړوند د سرطان د نورو ډولونو لپاره دا مهال د معاینې پروګرامونه شتون نلري. که تاسو د کومو نښو نښانو په اړه اندېښنه لرئ، له خپل GP سره خبرې وکړئ.

## جانبي عوارض

د ډېرو نورو واکسینو په شان، HPV واکسین د ډېرو ملایمو جانبي عوارضو لرونکي دي. په مټ کې سوی، پړسوب او سوروالی عام وي چې څو ورځو کې له منځه ځي. شدید جانبي عوارض په ندرت سره پېښېږي.

دغه واکسین په بریتانیا کې د استفادې لپاره د خوندیتوب سختګیرانه معیارونه پاس کړي دي او څرګنده شوې ده چې دا ډېر خوندي واکسین دي. په بریتانیا او ټوله نړۍ کې د دغه واکسین ملیونونه ډوزونه هلکانو اونجونو ته ورکړل شوي دي. لکه د نورو ټولو واکسینو په شان، د جانبي عوارضو په اړه هر ډول راپورونه له نږدې څخه څارل کېږي او ارزونه یې کېږي.

که تاسو د واکسینو پر وړاندې له شکمنو 1]جانبي عوارضو سره مخ کېږئ، تاسو کولای شئ په دې هکله د ژېړ کارت (Yellow Card) پر وېب پاڼه باندې راپور ورکړئ یا (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9 بجو تر 5 بجو پورې) **0800 731 6789** ته زنګ ووهئ یا هم کولای شئ دا کار د Yellow Card اپلیکېشن په ډاونلوډ کولو سره ترسره کړئ.

**www.mhra.gov.uk/yellowcard**

# ېئرلو دای ەپ

- خپل HPV واکسین همدا اوس وکړئ، په راتلونکي کې د یو شمېر سرطانونو پر وړاندې خپل ځان خوندي وساتئ
- دغه واکسین په بریتانیا کې هر کال د سلګونو خلکو ژوند ژغوري
- د HPV واکسینو له خوندیتوب سربېره تاسو لا هم باید خپل روغتیايي معاینات ترسره کړئ، لکه د 25 کلنۍ له عمر څخه ستاسو د رحم چرک یا ککړتیا

## د ډېرو معلوماتو لپاره، www.nhs.uk/hpv ته مراجعه وکړئ

د Gardasil 9 واکسینو د محتویاتو بشپړ لېست د ناروغ په معلوماتي پاڼه (PIL) کې ذکر شوی دی:

www.medicines.org.uk/emc/product/7330/pil

د محصول د ځانګړتیاوو لنډیز (SPC):

www.medicines.org.uk/emc/product/7330/smpc/print

NHS

HPV ACTION .ORG

دغه معلوماتي پاڼه د بریتانیا د روغتیايي امنیت د اېجنسۍ (UK Health Security Agency) له خوا خپره شوې ده.

**واکسیناسیون، مرسته کول چې هرڅوک په هر عمر کې خوندي پاتې شي**

معلوماتي پاڼه کولای شئ له www.healthpublications.gov.uk, څخه ډاونلوډ یا سفارش کړئ یا لاندې شمېرې ته د زنګ له لارې: 0300 123 1002 (تلفوني کرښې له دوشنبه تر جمعې د سهار له 8 بجو د ماښام تر 6 بجو پورې پرانېستې دي). د معلوماتي پاڼې ژباړه همدارنګه په لاندې ژبو کې شتون لري: البانیايي، عربي، بنګالي، برازیلي پې تې،، بلغاریايي، چینايي، هسپانیايي، ایستونیايي، فارسي، فیجیاني، یوناني، ګوجراتي، هندي، کردي، لاتوایايي، لیتوانیايي، نیپالي، پنجابي، پښتو، پولنډي، روماني، رومانیايي، روسي، سومالي، تاګالوګي، ترکي، توي، تګرینیايي، اوکرایني، اردو، یدېشي او یوروبایي

© Crown Copyright 2023. Product code: HPVU1L-PAS. 3P 850K MAY 2023 (APS)
UK Health Security Agency gateway number 2023-037 Pashto